## په افغانستان کې ټاکنې د ټولو د پام وړ دي

ډاکټر ظاهر طنين، په ملګرو ملتونو کې د افغانستان سفير او دايمي استازی

افغانستان په خپل تاريخ کې يوه نوی پړاو ته ننوځي. ټاکنې چې په څو اونيو کې به ترسره شي، نه يوازې د پنځو کلونو لپاره ددې هيواد سرنوشت ټاکي بلکه د هغه راتلونکی او د هغه د خلکو راتلونکې به د ډيرو کلونو لپاره تر نفوذ لاندې راولي. پنځه کاله پخوا زموږ ټاکنې د لسيزو خونړيو جګړو لپاره يو سمبوليک پای و. دغو جګړو افغانستان په تيرو لسيزو کې تباه کړی و او له ټاکنو سره بيا يوه نوې هيله را وټوکيده. د دويم دور ټاکنې به ددغې هيلې پايښت تر ازمېښت لاندې ونيسي. د افغانستان راتلونکی په خطر کې ده.

نړيواله ټولنه هغه حيرانوونکې پرمختګونه چې په تېرو اتو کلونو کې د افغانستان په نصيب شول ډېر ستايي. خو نړيواله ټولنه ددې انديښنه لري چې دغه لاس ته راوړنې به دوام وکړي او ايا د ټاکنو په پای کې به يو هوسا او قوي افغانستان په راتلونکو څو کلونو کې رامنځ ته شي او که څنګه. افغانستان په ربښتيا سره د تيرو څو کلونو په اوږدو کې د نړيوالې ټولنې د پام وړ ګرځيدلی او دغه پاملرنه خاصتا په دې تيرو څو اونيو کې ښه څرګنده شوې ده: د جون په ۳۰ نېټه د ملګرو ملتونو عمومي منشي له خوا د امنيت د شورا د بحث لپاره راپور، د امنيت د شورا د مشرتابه وينا، د ملي بهرنيو پاليسيو په باب څو ويناوې ټولې په دې باندې ټينګار کوي چې په افغانستان کې ټاکنې په ارامه سره سرته ورسيږي. دغه ټولې هڅې په افغانستان کې د ټاکنو اهميت په ګوته کوي چې د افغانانو په منځ کې د عمل او نظريوالی راولي او د خپل ملت لپاره مسووليت په غاړه واخلي.

په دې لړ کې يوناما دا ثابته کړې ده چې د نړيوالې ټولنې د غړو او افغانانو ترمنځ په عملي ډول د يوه مهم سازمان په حيث اړيکې ټينګې کړي. د دې لپاره ډيرې هڅې وشوې چې د ټاکنو لپاره فعاليتونه همغږي شي او دا څرګنده شي چې ټولې شريکې خواوې د اصولو سره سم په ټاکنو کې برخه اخلي. د دې خواو او د بين امللی ټولنې د مرستې څخه پرته ټاکنې په پرياليتوب سره سرته نه شي رسيدلای.

نړيواله ټولنه په دې باور ده چې د افغانستان راتلونکی ډاډمنه نه ده او که چيرې د ټاکنو بهير مشروعيت و نه لري او که د هغې پايلې د ټولو له خوا په قانوني ډول ونه پيژندل شي، د هيواد راتلونکې کيدای شي چې له خطر سره مخامخ شي. سره د دې هم، نړيواله ټولنه د دې قصد لري چې د عسکرو او له ۴۰ هيوادونو څخه د ټاکنو لپاره دڅارونکو د برابرولو او له ټاکنو سره د مالي مرستو له لارې د ټاکنو بهير په افغانستان کې پرمخ بوځي. بين المللی ټولنه په دې باور ده چې ټاکنې يوه سوچه افغاني مساله ده او افغانان بايد د خپلې خوښې مشران پخپله وټاکي. لکه څنګه چې د عمومي منشي خاص استازی ښاغلي کای ايډي به درست ډول ويلی دی، په شروع کې د ټولولپاره

مساوي برخه ډیره ضروري ده خو د بریالیو ټاکنو مسوولیت پخپله د نوماندانو او افغاني رایه اچوونکو په غاړه دی.

بریالی ټاکني به افغانستان ته دا فرصت ورکړي، چې له دوامداره بین المللی نظامی هڅو څخه را ووځي او د یوه پایداره په خپلو پښو ولاړ افغانستان په لوري وخوځیږي. دا ډیره مهمه ده چې ټاکنې په بریالیتوب تمامې شي، ځکه څه چې په افغانستان کې پیښیږي د سیمي او نړۍ د ثبات لپاره ډیر اهمیت لري. د اګست تر پایه هیله کیږي چې افغانستان سره متحد شي او یو قوي افغانستان تر جوړ شي، د تاسف خبره چې ټاکنې ډیر ځله خلک سره ویشي، مګر دا د ټولو افغانانو دنده ده څو دا وپیژني چې دغه ویښنه د مخالف نظریو د درلودلو د حق نتیجه ده، نه دا چې په جبري ډول په افغاني پریکړوکې مداخله وشي لکه په تیرو لسیزو کې چې دا ملک تر جبر او تصرف لاندې و. ټول افغانان که په داخل کې دي او یا په بهر کې مسوولیت لري چې له افغانستان سره مرسته وکړي او له دې فرصت څخه ګټه پورته کړي چې له خپلو دیموکراتیکو حقوقو او حکومتداري له حق څخه برخمن شي.

په افغانستان کې وروستي پرمختګونه د دې سبب نه شي کیدای چې موږ په خپله ژمنه کې له خپل ملک سره کمې د هغې په ذریعه تبریئه کړو. افغانستان اوس تر بل هر وخت څخه ړومبی د خپلو خلکو او د بین المللي ټولنې مرستې ته ډیره اړتیا لري. بین المللی ټولنه افغانستان ته اوس په داسي سترګه او هیله ګوري چې ثابته کړي چې دیموکراسي او ازادي، له ډیرو سختو شرایطو څخه هم را ولاړیدای شي. افغانستان باید د نورو ملتونو او خلکو لپاره په ټوله نړۍ کې د ازادو، منصفانه، مشروع، خوندي او شفافه ټاکنو یوه بیلګه وګرځي.

ټاکنې باید د قانون حاکمیت وساتي او افغانستان ته ددې فرصت ورکړي چې د تیرو کلونو د بریاوو پر بنسټ خپلو هڅو ته ادامه ورکړي. ټاکنې د خلکو لپاره ډیره ښه موکه ده چې خپل خلک سره یو موټی کړي، پایداره موسسات تاسیس کړي او د یوه خوندي، قوي او خپلواک افغانستان لپاره یوبنیاد جوړ کړي او هڅو ته ادامه ورکړي. موږ نوماندانو، رایه اچوونکو، د ټاکنو خپلواک کمیسیون، د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون، د میډیا کمیسیون، افغاني اردو او ملي پولیس، یوناما او د عمومي منشي خاص استازی ته او په پای کې ټول افغانستان ته سترګې په لار یو چې دیموکراتیکي پروسي ته د درناوی له لارې د داسي یوه افغانستان جوړول یقیني کړي چې زموږ ټولو لپاره د ویاړ ځای وي.

ډاکټر ظاهر طنین، د ملګرو ملتونو لپاره د افغانستان سفیر او دایمي استازی